Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادی معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۳۰مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۴مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۴/۸/۱۵



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د کان کیندنې پروژو کې له کورنیو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پالیسۍ مسودې تایید

۲- د کروندګرو له پاره د بدیل معیشت د پنځه کلنې طرحې تصویب

۳- هرات کې د تېلو د لویو زېرمو جوړېدو د چارو پیل

# د کان کیندنې پروژو کې له کورنیو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پالیسۍ مسودې تایید



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اړوند د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې په ناسته کې د کان کیندنې پروژو کې له کورنیو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پالیسۍ مسوده د تایید وړ وبلل شوه او د نهایي تصمیم له پاره اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه. د کان کیندنې په پروژو کې له کورنیو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پالیسي یو جامع لارښود وړاندې کوي، ترڅو د کان کیندنې پروژو په ټولو پړاوونو (اکتشاف، کیندنه او پروسس) کې له کورنیو سرچینو څخه ګټه واخیستل شي او په وارداتي توکو او بهرنیو کارکوونکو تر ډېره بریده تکیه راکمه شي. دغې پالیسۍ کې د کان کیندنې شرکتونو ته د کورنیو سرچینو د کارونې، تدارکاتو، کارموندنې او د کاري ځواک د ظرفیت لوړونې په اړه لازمې لارښوونې شوې او د پالیسۍ د ښه پلي کېدو له پاره د ښکېلو اړخونو مسوولیتونه او د همغږۍ لارې چارې تثبیت شوي دي. د کان کیندنې برخې د کاري ځواک د فني او حرفوي مهارتونو لوړول، د دوامداره کاري فرصتونو رامنځته کول، له کورنیو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې ډېروالی او پر وارداتو تکیه راکمول او د کورنیو صنایعو او سیمه ییز اقتصاد د ودې له پاره زمینه برابرول د دې پالیسۍ موخې دي. دا پالیسي په ټولو هغو کان کیندونکو شرکتونو او د کان کیندنې په پروژو کې د تطبیق وړ بلل شوې، چې په هېواد کې د کوچني او لوی مقیاس کانونو په اکتشاف، کیندنې او د کاني موادو په پروسس بوخت دي. د پالیسۍ په تطبیق کې د کانونو او پېټرولیم وزارت او نورو ښکېلو ادارو ترمنځ همکاري لازمه بلل شوې او په مسوده کې د هرې ادارې دندې واضح شوې دي. د تخنیکي کمېټې له لوري په تایید شوي سند کې د پالیسۍ اړتیا او اهمیت، د وضعیت تحلیل، د پالیسۍ شرحه، راپور ورکول، څارنه او ارزونه، تعدیل او نور مسایل روښانه شوي دي.

# د کرونډګرو له پاره د بدیل معیشت د پنځه کلنې طرحې تصویب

د افغانستان اسلامي امارت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان پر بنسټ د کرونډګرو له پاره د بدیل



معیشت پنځه کلنه جوړه شوې طرحه منظور شوې ده.

د بدیل معیشت پنځه کلنه طرحه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان پر اساس د کوکنارو د کښت د بندېدو په موخه د بدیل معیشت او د کوکنارو او مخدره توکو تولیدوونکو بوټو پرځای بزګرانو ته د ارزښت لرونکو بوټو د پېژندنې په موخه چمتو شوې ده، چې د بزګرانو د اقتصادي ودې او پیاوړتیا په پار دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ او طبیعي سرچینو په برخو کې د بدیل معیشت پروژې، په بشپړ ډول د کوکنارو د کرکیلې له منځه وړل او مشروع او متنوع

محصولاتو کښت ته د بزګرانو هڅول په کې شامل دي.
د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، د دې طرحې د عملي کولو له پاره ۴،۷۹ میلیارد افغانیو ته اړتیا ده، چې په پلي کېدو سره به یې د هېواد د کرنیزو محصولاتو ارزښت لوړ شي او زرګونه کروندګرو ته به په مستقیم او غیرمستقیم ډول ګټه ورسېږي.
دا طرحه په هېواد کې د بزګرانو له پاره د حلالو او دوامداره اقتصادي فرصتونو په موخه جوړه شوې ده. د دې طرحې په پلي کېدو سره به په هېواد کې بېوزلي پراختیا وموومي، د غلو کښت به وده وکړي، مالداري به ورسره پیاوړې او ګڼ نور پرمختګونه به ورسره رامنځته شي، چې دا به د هېواد اقتصادي وده او د بزګرانو اقتصادي وضعیت ښه کېدو کې مهم رول ولوبوي.

## هرات کې د تېلو د لویو زېرمو جوړېدو د چارو پیل

د نفتو او ګازو امارتي شرکت مسوولینو ویلي، د هرات روزنک رباط پټلی په تم ځای کې د تېلو د تخلیې، زېرمې او وېش د اسانه کولو په موخه د تېلو د لویو زېرمو جوړېدو چارې پیل شوې دي.
د مسوولینو په وینا، د زېرمو د جوړولو د پروژې لومړی فاز به د ۱۰۰۰ ټنه ډیزلو او پټرولو د زېرمه کولو وړتیا ولري او په راتلونکي کې به دا ظرفیت نور هم زیات شي.
دا کار د فابریکو، موټرو او د ښار د اوسېدونکو له پاره ډېر ګټور دی، ځکه د دې زېرمو په جوړېدو سره به د دوی د تېلو د احتمالي کمښت څخه وژغورل شي او د تېلو د لېږد، ذخیرې او وېش بهیر به هم منظم او چټک شي.
د افغانستان اسلامي امارت مسوولین هڅه کوي چې د هېوادوالو ستونزو ته په وخت رسېدنه وکړي او په هغو اساسي برخو پانګونه وکړي چې هېوادوال ورته ډېره اړتیا لري.

